ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**عبادالرحمان**
پی ایچ ڈی سکالر، شعبہ پشتو، جامعہ ملاکنڈ۔
**ڈاکٹر نورالبصر امن**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، جامعہ ملاکنڈ۔

# د ماحولیاتي الودګۍ پهٔ تناظر کښې د ملاکنډ د جدید پښتو غزل څېړنه

**Ibad Ur Rahman***
Ph.D. Scholar, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.
**Dr. Noor Ul Basar Aman**
Assistant Professor, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.
**Email:** ibadurrahman775@gmail.com

## A Study of Contemporary Pashto Ghazal of Malakand in the Context of Environmental Pollution

Ecocriticism sets up an association between humans and the natural environment and pleads solutions to the problems faced by the natural world. Environmental pollution is one of the fabulous ecological consequences of our time, and human beings are responsible for it. Pollution exists in many forms, including land pollution, water pollution, air pollution, noise pollution, chemical pollution, and nuclear pollution. This article will examine and highlight various aspects of the environmental pollution mentioned in the contemporary Pashto ghazal of Malakand Division.

**Key Words:** *Ecocriticism, Environmental Pollution, Malakand Division, Modern Pashto Ghazal, Ecological Consequences.*

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

الله پاک د دې کائینات نظام ډېر په ښائسته طریقه جوړ کړې دے هر کار په فطري طریقه په داسې ښکلي ډول تر سره کوي چې د ټول انسانیت او زنده سرو دپاره د خېر سبب جوړېږي خو کله کله د څهٔ محرکاتو او وجوهاتو په بنا د دغه نظام په یوه برخه کښې ګډ وډي پېدا شي چې په اسانه او ساده ژبه کښې ورته مونږه الودګي یا ناولتیا وئیلے شو۔ د ماحول په الودګۍ کښې فطري محرکات ډېر کم په نظر راځي لکه د مثال په توګه سېلاب یا زلزله، خو زیاتره د نظام په خرابۍ او د ماحول په الودګۍ کښې د انسان لاس وهنه لیدے شي۔ الودګي د نن دور د ټولو نه اهمه او سنګینه ماحولیاتي ستونزه ده چې د انسان د وجې نه مخې ته راغلې ده او ذمه وار ئې هم انسان په خپله دے۔

الودګي، چې په پښتو کښې ورته مونږ "خیچن والے (ناولتیا) " او عربۍ کښې ورته "التلوث"[1] هم وئیلے شو، په اصل کښې د انګرېزۍ د "Pollution" معنٰی ورکوي او "Pollution" لفظ په خپله د لاطینۍ ژبې نه اخستے شوے دے۔ د الودګۍ یا ماحولیاتي الودګۍ تعریف مونږ داسې کولے شو۔

> "Pollution is derived from Latin word 'polluere' which means 'to contaminate' any feature of environment. Environmental pollution may be defined as the "unfavorable alteration of our Surroundings"."[2]

د اکسفورډ ډکشنرۍ مطابق:

> "The process of making air, water, soil, etc., dirty; the state of being dirty."3

په مجموعي توګه به مونږ د ماحولیاتي الودګۍ یا ناولتیا تعریف او وضاحت داسې وکړو۔

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07


"ماحولیاتی آلودگی سے مراد قدرتی عوامل یا انسانی سرگرمیوں کے نتیجے میں رونما ہونے والے وہ تغیرات ہیں جو کائینات میں موجود جاندار یا غیر جاندار اشیاء پر براہ راست یا بالواسطہ بُرا اثر ڈالتے ہیں یا کائینات کے اندر پیدا ہونے والے وہ بے شمار مسائل جو کائینات میں موجود قدرتی توازن میں بگاڑ اور منفی تبدیلیاں پیدا کر کے اسے نقصان پہنچائیں اور جن کی وجہ سے کائینات میں موجود حیوانات خصوصاً انسانوں کی زندگی اور صحت پر بُرا اثر پڑتا ہو ایسے مسائل کو ماحولیاتی آلودگی سے تعبیر کیا جاتا ہے۔"[4]

د ماحولیاتي الودګۍ سره زمونږ د زمکې، هوا او اوبو معیار (Quality) بدلېږي کوم چې د انساني صحت او په زمکه د نورو ژوندي اشیاؤ دپاره د نقصان سبب جوړېږي. کوم عناصر چې د زمکې، هوا یا د اوبو معیار خرابوي هغې ته "Pollutants" وئیلے شي. د ماحولیاتي الودګۍ بیا په خپله مزید نور شپږ قسمونه دي چې پکښې زمیني (زمکنۍ الودګي)،آبي/ د اوبو الودګي، فضائي/ د هوا الودګي، صوتي/ د شور الودګي، کېمیکل (کیمیائي) الودګي او نیوکلیائي الودګي د ذکر کولو جوګه دي.

کۀ د ملاکنډ پۀ جدید پښتو غزل کښې د الودګۍ دغه ټول قسمونه لټوو نو ګڼ شمېر شعرونه زمونږ پۀ لاس راتلے شي. دلته یو پۀ یو د الودګۍ پۀ بېلا بېلو ډولونو بحث کوو او ورسره ورسره د ملاکنډ پۀ جدید غزل کښې د هغې خرک او درک معلوموو.

**زمکنۍ الودګي(Land Pollution):**

زمکنۍ الودګي ته د خاورې الودګي (Soil pollution) هم وئیلے شي چې پۀ اصل کښې د انساني سرګرمیو لۀ کبله بالواسطه یا بلا واسطه پۀ وجود کښې راځي او پۀ زمکه د موجودو انسانانو او زنده سرو ژوند پۀ خطره کښې اچوي ،متاثره کوي ئې او یا ئې بېخي لۀ مینځه وړي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07



د زمکنۍ الودګۍ ګڼ وجوهات کېدے شي. د کورونو نه واخله د بازارونو، هوټلونو، کارخانو او دکانونو پورې د ګنده اوبو د نکاسۍ، په لارو او کوڅو کښې د ډېرانونو، پلاسټکونو او بوتلو، د جوهري مادو اخراج، د ځنګلونو او ونو بوټو کټائي، په زرعي زمکو او باغونو باندې کورونه، پلازې، مارکیټونه او نوي ټاونونه او ښارونه جوړول، په فصلونو د ماشي پیشوګۍ سپرے او کیمیائي سرو (خاورو) د استعمال سره د زمکې الودګي جوړېږي چې د زمکې په پېداواري صلاحیت منفي اثرات هم غورځوي. د دې نه علاوه قدرتي افتونه هم د زمکې او خاورې د الودګۍ باعث ګرځېدے شي.

په پښتنه ټولنه کښې د کلیو او بانډو د ډېرانونو د خراب صورتِ حال په لور فضل حکیم عندلیب داسې اشاره کوي:

"تنـــــداري د تهـــــذیبونو پکښـــــې وکـــــړم
چـــې د کلـــــي د ډېرانـــــه پـــــورې ځمـــــه"5

په دې شعر کښې کۀ یو اړخ ته د زمکنۍ الودګۍ خبره شوې ده نو بل اړخ ته دا شعر د پلاسټک الودګۍ (Plastic Pollution) عکاسي هم کوي.

**آبي/ د اوبو الودګي (Water Pollution):**

په اوبو کښې د مضرِ صحت او نقصان ورکوونکي کیمیائي موادو د ګډ وډ کېدلو سره صفا اوبۀ ګنده کېدل ابي الودګي بللے شي[6]. د ابي الودګۍ د ټولو نه اهمه وجه صنعتي فالتو مواد دي، کوم چې نهرونو، سیندونو، خوړونو او تالابونو ته غورځولے شي. نړۍ هسې هم د صفا اوبو د کمي سره مخ ده، لا د کورونو استعمال شوې اوبۀ (چې پکښې صابن او

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

سرف شامل وي) او د انساني فُضلې (غلاظت) او د ګټر الوده مواد د دې د پاسه لوي مصيبت دے چې په ښاريه کښې د خراب انتظامي بندوبست لهٔ کبله ورځ تر بله زياتېږي. د ابي الودګۍ کوټلے تعريف مونږ داسې کولے شو.

> "Water pollution is defined as the addition of some substance (organic, inorganic, biological and radiological) or factor (e.g., heat) which degrades the quality of water so that if either becomes health hazard or unfit for use."7

په دغه زهريله موادو کښې زرعي سرې او سپرے ګان هم راځي کوم چې په لويه کچه د پېداوار د زياتوالي په غرض استعمالولے شي. دا کهٔ يو اړخ ته خاوره الوده کوي نو بل اړخ ته اوبهٔ او هوا هم الوده کوي. کله چې باران وشي او په زمکه اوبهٔ اوبهېږي نو دغه زهريله اوبهٔ د خوړونو، سيندونو او کوهيانو د اوبو سره يو ځاے شي چې کهٔ يو اړخ ته د څښلو پاکې اوبهٔ ناکاره کړي او د صحت يو شمېر مسائل را ولاړوي (کوم ځاے کښې چې اوبهٔ ډېرې الوده وي نو د هغه علاقې د خلقو I.Q لېول هم کم وي)[8] نو بل لوري ته ابي ژوند هم د لوېې خطرې سره مخ کوي. د مثال په توګه د مهيانو ډېر نسلونه او قسمونه ورسره لهٔ مينځه لاړل.

د ابي الودګۍ يوه بله لويه وجه تېزابي باران (Acid rain) ده[9]. کله چې د باران صفا اوبهٔ د الوده هوا سره مېلاؤ شي نو بيا دغه باران تېزابي شکل اختيار کړي او چې کله د باران دغه تېزابي څاڅکي زمکې ته راشي نو ابي الودګي زېروي چې په وجه ئې ونې بوټي او کله کله لوي لوي ځنګلونه هم لهٔ ژونده لاس ووينځي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

پهٔ جدید پښتو غزل کښې د اوبو الودګۍ د یوې بلې اهمې ستونزې سره مربوط کړے شوې ده او هغه د بدامنۍ ستونزه ده چې د پښتون وطن سمه او غرئې اغېزمن کړي دي. پهٔ داسې حال کښې د ملاکنډ پهٔ جدید غزل کښې پهٔ علامتي رنګ کښې د اوبو الودګۍ پهٔ دې ډول د بحث لاندې راغلې ده.

"نښترې، چینـاران دي د بـارودو لمبـو سـوي
راځي پکښې اوس سرې اوبهٔ چینې پهٔ وینو سرې دي"[10]

پهٔ دې شعر کښې کهٔ یو طرف ته د ابې الودګۍ خبره شوې ده نو بل لورې ته د بارودو لهٔ کبله او د فضائي الودګۍ د وجې د ځنګلي حیات د تباهۍ نقشته هم وړاندې کړے شوې ده. یو بل شاعر هم پهٔ خپل یو شعر کښې د بارودو د لمبو او د چینارانو د سېوري د ختمېدو ذکر کوي.

"د ګـودر ونـې د بـارودو پـهٔ لمبـو سـوي دي
نـهٔ کـوي هغسـې اوس هغـه چینـاران سـېورے"[11]

د دې شعر نه دا خبره هم ثابتېږي چې د ګودر پاکې او خوږې اوبهٔ پهٔ بارودو الوده شوې دي او د دغه کیمیائي موادو د استعمال لهٔ کبله د ګودر ونې او چیناران لهٔ مینځه ورک شول او د پښتني ثقافت بنیاد ړنګ شو.

**فضائي/د هوا الودګي(Air Pollution):**

پهٔ فضا کښې مضرِ صحت کیمیائي او خطرناک ګېسونه شاملېدل فضائي الودګي بللے شي[12]. عمران بشیر د فضائي الودګۍ تعریف پهٔ دې ډول کوي.

" Air pollution may be defined as the presence of one or more contaminants like

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

dust, mist, smoke and colour in the atmosphere that are injurious to human beings, plants and animals."13

او د صحت د نړیوالې ادارې WHO مطابق:

"The presence of materials in the air in such concentration which are harmful to man and his environment."14

د هوا د الودګۍ وجوهات فطري او غېر فطري دواړه کېدے شي خو کوم چې غېر فطري يعنې د انسان لۀ وجې دي نو هغه ډېر دي چې پکښې د کورونو د اخلي پخلي، د ګاړو او سمندري او هوائي جهازونو د امد و رفت ، د کارخانو او مختلف قسم مشينونو د استعمال پۀ وجه خارجېدونکي لوګي او ګېسونه شامل دي. پۀ دغه مضرِ صحت ګېسونو کښې کاربن ډائي اکسائيډ او کلوروفلورو کاربنز د هوا پۀ الودګۍ او نړيواله تودوخه کښې لوي لاس لري. پۀ موسمي بدلون او نړيواله تودوخه کښې د اضافې لوي سبب جوړېدونکي ګېسونه "ګرين هاوس ګېسز" دي چې هر کال د يو پنځوس(۵۱) بلين ټن پۀ مقدار کښې د ماحول برخه جوړېږي.[15] د فضائي الودګي پۀ انساني صحت او نور حياتياتي نظام باندې ډېرې بدې اغېزې پۀ نظر راځي. د مثال پۀ توګه د ګاړو، کارخانو او تېلو پۀ ريفائنرۍ او پاور پلانټونو کښې د سوزېدونکيو(Fossil Fuel) تېلو پۀ نتيجه کښې نائټروجن اکسائيډ، کاربن مانواکسائيډ او سلفر ډائي اکسائيډ ګېسونه پۀ وجود کښې راځي چې د ګردو د کېنسر، د زړۀ د مرضونو، نمونيا، د سترګو، پوزې او مرۍ خاربښ سره سره د تېزابي باران د پيدا کېدو سبب ګرځي. دغه شان نائټرس اکسائيډ د ګرين هاوس ايفکټ سبب جوړېږي چې د ځنګل وهنې او نائټروجن لرونکيو کيميائي سرو د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

استعمال پهٔ نتيجه کښې پيدا کېږي. د دې هر څهٔ نه د بچ کېدو د پاره مونږ له سولر، پاکې او ګرين توانائي طرف ته قدمونه اخستل پکار دي.

د ملاکنډ په جديد غزل کښې د فضائي الودګۍ نمائنده ګڼ شمېر شعرونه شته دے، د کومې سره چې لوي وړوکے اولس مخ دے. د يادونې وړ خبره ده چې د پښتو پهٔ همه شاعرۍ کښې زياتره د هوا د الودګۍ ذکر موجود دے خو اکثريت شاعران د هوا الودګي د جنګ او بارودو سره تړلې ګڼي او کوم نور ذرائع چې دي هغه نظر انداز کوي. اګر چې پهٔ دې خبره کښې سل پهٔ سله حقيقت دے چې نهٔ يوازې پهٔ فضائي الودګۍ بلکې د هر ډول پهٔ ماحولياتي مسائلو کښې د جنګ او د بارودو د استعمال لوي لاس وي. او چونکې پښتانهٔ د تېرې صدۍ راهسې د جنګ د لمبو ښکار دي نو ځکه د دوي پهٔ شاعرۍ کښې به د جنګي حالاتو ذکر ارومرو وي. پهٔ دې جنګي ماحول او بارودي فضا کښې رالوي شوے شاعر به خوامخوا داسې وائي:

"لاړم تـــــري زر فضـــــا زمـــــا دپـــــاره
زهـــــر الـــــوده وه چـــــې زهٔ راغلـــــم" 16

کهٔ د اروابناد عبدالرحيم روغاني پهٔ دې پورته شعر کښې د "زهٔ" نه مونږ د دې دور " ټول انسانان" مراد واخلو نو بده به نهٔ وي ولې چې پهٔ اوسني دور کښې چې کهٔ انسان دے او کهٔ نور زنده سري ، د بارودو پهٔ زهرژن ماحول کښې سترګې غړوي.

پهٔ يو بل شعر کښې پهٔ ځنګلونو د اور لګېدو لهٔ کبله پېدا کيدونکې الودګۍ ته داسې اشاره کوي:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

"دا تور لوګي چې د شین غر نه خېژي
دغه زمونږ په ځنګل اور بلېږي"[17]

د ملاکنډ پۀ غزل کښې دويم نوم د ارواښاد ډاکټر خالق زيار راځي ځوک چې د ماحول پۀ حواله واضحه موقف لري او خپل اولس هم د هر قسم مسائلو نه خبرداروي۔ د فضائي الودګۍ پۀ حواله ئې دا شعر څومره زور دار او د معنو نه ډک دے، لکه چې وائي :

"دا د ښاريې لوګي ئې نۀ پرېږدي
اوسي کۀ سرے چېرته پۀ غر کښې هم"18

پۀ دې شعر کښې زيار صيب د خپلې اتمانخېلې لهجې پکارونه دومره پۀ هنرمندۍ کړې ده چې د شعر ښکلا پرې لا دوچنده شوې ده۔ "چېرته" لفظ دا ظاهروي چې د ښار فضائي الودګي دومره زياته شوې چې کۀ يو ځوک ډېر وغواړي چې د دې الودګۍ نه ځان بچ وساتي ، هم نۀ شي کولے ولې چې فضا څۀ زمکه خو نۀ ده چې سړے به پکښې کرښې راکاږي او سرحدونه به ورته بند کړي۔ اوسنۍ نړۍ ته چې " نړيوال کلے" وئيلے شوے دے نو دا ورته پۀ ځاے وئيلے شوے دے ځکه چې فضا زمونږ د ټولو شريکه اثاثه ده۔

د جنګې اقتصاد پۀ اثر کښې چې د پښتون وطن د انسانانو سره سره د حېواناتو او کانو، بوټو کوم بېخ بنياد ووتو، د هغې داستان بيانول پۀ لفظونو کښې مشکل دي، ځکه خو ډاکټر زيار وائي :

"قصه به درته څۀ وکړم چې څنګه ورځې شپې دي
اورونه دي اورونه وطن ټول لوګے لوګے دے"19

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

په دې شعر کښې چې په "وطن ټول لوګې لوګې دے" کښې کوم زور او شدت پروت دے، دومره په روزمره کښې د وئيلو (ټول وطن لوګې لوګې دے) سره نۀ محسوسېږي او پکښې د تېرو وختونو د تباهۍ ټوله قصه خوندي شوې ښکاري.

د دغه لوګي د وجې نه چې ماحول کوم پيکه رنګونه راپرېښودي دي او د اولس مرۍ او ساګانې ئې خفه کړې دي ، ډاکټر صاحب شاه صابر د هغې انځور ګري داسې کوي:

"څۀ پيکه پيکه لوګې لوګې ماحول دے
کله کله خو مې ساه پکښې ساه ساه شي"20

دا شعر کۀ مونږ په خپلو اصلي معنو کښې د فضائي الودګۍ تعبير وګڼو نو په داسې حال کښې "ساه ساه" يا "بې ساه" کېدل فطري خبره ده. ولې چې کله په فضا کښې د کاربن ډائي اکسائيډ او کاربن مانو اکسائيډ مقدار سېوا شي نو ظاهره خبره ده چې هلته به د اکسيجن کمے راځي او پاکه او صحت منده هوا به ختمېږي.

په يو بل شعر کښې د ښار هوا ګنده او الوده بولي ولې چې د ښار هوا د ګاړو او کارخانو د لوګو او ګېسونو د اخراج په وجه ګنده شوې وي او د صحت دپاره مضره وي ځکه چې په دغه فضا کښې د مختلف قسم ګېسونو مقدار سېوا شي لکه نائټروجن اکسائيډ،اوزون،سلفر ډائي اکسائيډ، کاربن مانو اکسائيډ، کلوروفلورکاربن او داسې نور- د دې برعکس د بڼونو او ځنګلونو فضا صحت افزا وي- شعر په دې ډول دے:

"زما د ښار په هوا څۀ شوي دي
ستا د بڼو د بڼ قصه نۀ کوي"21

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

د لرې يا اوچت ځاے نه چې سړے د ښارونو ننداره وکړي نو د مضرِ صحت ګېسونو د زياتوالي او الودګۍ په وجه پرې خړ يا تور غونډې څادر راخور ووينې، کوم چې د مختلف قسم بيماريو او د صحت د نورو خرابيو سبب جوړېږي۔ خصوصاً د داسې علاقو باران ډېر زيات خطرناک وي ولې چې کله د باران د څاڅکو سره دغه ذرات او لوګي يو ځاے شي نو په باراني اوبو کښې تېزابيت پيدا کوي۔ ډاکټر اباسين يوسفزے د پېښور ښار د فضائي الودګۍ منظر ډېر په زړه راښکونکي انداز سره وړاندې کوي
:

" په پېښور جانان څادر د لوګي خور ووينم
چې ننداره ئې د چراټ يا لۀ خېبره وکړم"22

د فضائي الودګۍ په بې لګامه زياتوالي کښې د "پېټروکلچر" ډېر لوي لاس دے او نن سبا کۀ ښار دے او کۀ کلے، د دې اثر نه خالي نۀ دے هم دا وجه ده چې په فضا کښې فائده مند ګېسونه او اکسيجن وغېره يا خو ختم شول او يا په نيشت حساب دي او داسې ښکاري لکه د نن دور انسان چې په خپله مرۍ په خپله لاس ږدي۔ فضل حکيم عندليب دغه نوحه په دې ټکو سره کوي:

" د ساه راکښلو له ئې پاکه هوا پاتې نۀ کړه
انسان پۀ خپله مرۍ غلے شو د نوي پېړۍ"23

په ښار کښې د لوګو او دوړو نه علاوه د صفا اوبو مسئله هم ډېره وي۔ په هوټلو او اډو کښې د څښلو د اوبو معيار ډېر پرېوتے وي چې د هيضې او نورو بيماريانو سبب ګرځي۔ دغه شان چې کوم نهري نظام دے هغه هم ډېر ګنده شوے وي۔ البته په پرمخ تللي هېوادونو کښې دغه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07


مسائل بيخي نۀ وي۔ ډاکټر شہر زمان سيماب د ښار او کلي يوه موازنه وړاندې کوي چې پکښې دغه ستونزې په نخښه کړے شوې دي۔

" زمـا د کلـي د سـيند غـاړه يادېدلـه ماتـه
ځکـه خـو بېرتـه د لوګـو لـۀ هغـۀ ښـاره راغلـم "24

طاهر بونېرے هم د غزل په يو شعر کښې د فضائي الودګۍ تذکره کوي او دا نظر لري چې فضائي الودګي د بارودو او د جنګ د حالاتو پيداوار دے، چې په نتيجه کښې د فطرت ښائستونه لۀ مينځه ورک شول۔ هغۀ ليکي :

"مـونږ هـره سـاه کښـې د بـارودو تـريخ لوګے راکـاږو
مونږ تل ارمـان د ښائسـتونو د فطـرت کـړے دے "25

د اشنا باجوړي په يو شعر کښې د فضائي الودګۍ اثرات په ټول حياتياتي ژوند باندې ښودلے شوي دي۔ هغۀ د کلي او ښار ټولې هواګانې الوده ګڼي۔ لکه چې وائي :

"دلتـه خـو د هـر بـوټي پـۀ پـاڼو لـوګي پـورې دي
خدايه چې لا هلته کښې د ښار سپرلے بـه څنګـه وي ؟"26

محمد اسماعيل سيار هم په فضا کښې د الودګۍ سزاوار صرف او صرف "بارود" ګڼي او ټول ماحول سلګۍ سلګۍ بولي :

"سـياره د بـارودو د لـوګي پـۀ تـور مانښـام کښـې
سلګۍ سلګۍ ماحول دے ځانونـه رانـه هېر شو "27

**د شور (صوتي) الودګي (Noise Pollution):**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

شور عموماً د اوازونو هغه مجموعه وي کوم چې د انساني یا غیر انساني مخلوق په غوږونو او سماعت بد او درانه لګي او ژوند ئې متاثره کوي.[28] شور په ظاهره خو نقصاني نه ښکاري خو په اصل کښې دا یوه لویه ماحولیاتي الودګي ده چې نن سبا ورسره ټوله نړۍ مخ ده. شور د انساني صحت سره سره ټول ماحولیاتي او حیاتیاتي نظام متاثره کوي. شور مونږ په درې قسمونو کښې وېشلے شو چې پکښې د ټرانسپورټ (د ګاړو ،رېل ګاړو او جهازونو د تګ راتګ په وجه)، کارخانو (د وړو میلونه،پرنټنګ پرېسونه، د سټیل او بلاکونو کارخانې، کرش مشینونه وغیره) او چم ګاونډ شور (په تېز اواز ټي وي ، رېډیو ، لاوډسپیکر، میوزک پارټۍ، د ماشومانو د لوبو شور، د سپو غپل وغیره). د فزکس مطابق د شور الودګي هله جوړېږي چې د اواز اوچت والے د خپل حساب نه ډېر شي، لکه:

> "Noise pollution is caused when the loudness of the sound becomes irritating or unbearable."[29]

د اواز د شدت اکائي په ډېسي بېل (Decibel 'dB') نومولے کېږي او د صفر نه واخله تر سلو ډېسي بېل پورې د اواز شدت قابلِ برداشت وي خو چې د یو سل او شلو نه زیاتېږي نو هغه بیا د شور سبب ګرځي. په ورځ کښې په عامو خبرو اترو کښې ۵۵ ډېسي بېل او د شپې ۳۵ ډېسي بېل نه زیات اوچت اواز نۀ دے پکار. د اواز شدت کۀ چرته د ۸۵ ډېسي بېل نه سېوا کېږي نو بیا د انساني سماعت دپاره د نقصان سبب جوړېږي.30 د شور سره هم ګڼ شمېر د صحت مسئلې راپېښېدے شي لکه په غوږونو کوڼ کېدل (د سماعت مسئله) ، د زړۀ مسئله، د سر درد، کولیسټرول، بلډپرېشر، او ذهني او اعصابي ستونزې راولاړېدے شي. د شور د الودګۍ نه د بچ کېدو یا د کنټرول کولو دپاره څۀ احتیاطي تدابیر هم دي،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

لکه کارخانې د رهائشي ځايونو، هسپتالونو او تعليمي ادارو نه په ډېر لرې فاصله کښې جوړول. د شور پېدا کوونکيو مشينونو په خوا کښې او د سړکونو په غاړه ونې بوټي نالول، په کورونو او نورو عمارتونو کښې اواز جذب کوونکي ميټيريل (لکه ټائيلونه وغېره) پکار راوستل، په ګاړو او خصوصاً په موټر سائيکلو کښې سائيلنسرې خاموشه ساتل، په ښارونو او د انساني ابادۍ په ځايونو کښې د غټو ګاړو په داخله پابندي لګول، په پرېشر هارنونو بندېز لګول او داسې نور. مختصر دا چې د شور الودګي ختمولو دپاره اولسي شعور انتهائي ضروري دے.

په پښتو شاعرۍ کښې به د شور د الودګۍ په باب له ډېر شعرونه موجود وي خو د سوات د اروانښاد حبيب الله بېتاب په دې يو شعر کښې بې انتها ډېر احساسېدے شي.

"خلــــق د ښـــــار د شـــــوره داســــې تنــــګ دي
چــــې ابــــادي پرېـــــږدي ځنګـــــل خوښـــــوي"[31]

او د محمد اسماعيل سيار په يو شعر کښې د خاورې، هوا او شور درې واړه الودګۍ په ډېر ښکلي ډول وړاندې کړے شوي دي، لکه چې وائي:

"د ګـــاډو تـــور لـــوګي او دا نعـــرې ســـورې د خلکـــو
د شـــور نـــه مـــې بـــې دربغـــه ســـر خـــوږېږي ښـــاريه کښـــې"[32]

**کېميکل/کيميائي الودګي(Chemical Pollution):**

کېميکل الودګي په هوا، اوبو او زمکه په هر ځاے او هر حالت کښې کېدے شي. کيميائي الودګي فطري هم کېدے شي او د انساني اعمالو او افعالو د وجې نه هم خو په دواړه حالتونو کښې د انسان او

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

ماحولياتي نظام دپاره د تباهۍ باعث ګرځي. د کېميکل يا کيميائي الودګۍ تعريف مونږ داسې کولے شو.

> "Chemical pollution refers to the contamination of our environment with chemical that are not found there naturally."[33]

د کېميکل الودګۍ د تباهۍ غوره مثال زمونږ سره په تاريخ کښې د هندوستان د "بهوپال پلانټ" واقعه ده چې په کال ۱۹۸۴ء کښې په دريم دسمبر رامخې ته شوه.

> "1984 میں بھارت کے علاقے بھوپال میں union carbide پلانٹ سے جان لیوا methyl isocyanate میتھائل اسوسائنیٹ گیس ہوا میں چھوڑ دی گئی جس سے ایک محتاط اندازے کے مطابق تقریباً اڑھائی ہزار سے آٹھ ہزار افراد فوری طور پر اپنی جانیں گنوا بیٹھے۔"[34]

دا واقعه په اصل کښې "pesticide plant" وۀ چې د ځلوېښت ټنو ميتهائل ايسوسايانيټ ګېس د ليک کېدو په وجه ئې درې زره اته سوه خلق وژلي وو. 35 غرض دا چې کيميائي الودګي په سيکنډونو کښې په زرګونو او لکونو انسانان او نور مخلوقات يوه نمړۍ کولے شي. د عبدالرحيم روغاني دا شعر د کيميائي الودګي ترجماني کوي.

> "لاړم تري زر فضا زما د پاره
> زهر الوده وه چې زۀ راغلم "36

## نيوکليائي الودګي(Nuclear Pollution):

انسان د توانائۍ ګڼ شمېر ذرائع په خپله قبضه کښې راوستي دي چې يوه پکښې نيوکليئر انرجي هم ده، چې د نن دور تر ټولو لويه متنازعه مسئله ګڼلے شي. ولې چې د دې توانائۍ نه د حاصلېدونکي فائدې په

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

نسبت د دي نقصانات ډېر زيات او خطرناک دي. نيوکليائي الودګي مونږ پۀ فضا (خلا) د ريډيو ايکټيو او تابکار زراتو غلاظت او ګندګۍ ته وئيلے شي کوم چې د نيوکلير پاور پلانټونو نه خارجيږي.

“Nuclear pollution is sometimes also referred to as radioactive contamination. It is the deposition or presence of radioactive materials within solids, liquids, gases or on surfaces. Their presence within these bodies may be undesirable or unintentional. Today, however, we commonly refer to nuclear pollution as pollution of the atmosphere by radiation or radioactive particles.”37

نيوکليائي الودګي هم تباه کوونکي اثرات لري او د نړۍ پۀ تاريخ کښې چې مونږ نظر کوو نو داسې واقعې هم پېښې شوي دي چې پۀ زرګونو خلق ئې لۀ مينځه وړي دي. د مثال پۀ توګه پۀ کال ۱۹۷۹ء کښې د پنسلوېنيا د Three Mile Island رې ايکټر نه د تابکار شعاګانو خارجېدل چې تقريباً درې لاکهه خلق ئې متاثره کړي وو او پۀ کال ۱۹۸۶ء کښې د يوکرائن پۀ چرنو بل (Chernobyl) نومې ايټمي رې ايکټر کښې چاودنې هغه واقعات دي چې پۀ يوکرائن او بيلا روس کښې د ماشومانو د کېنسر پۀ شرح کښې د سېوا کېدو سبب جوړ شو. دغه شان پۀ جاپان کښې پۀ ۲۰۱۱ء کښې پۀ سمندر کښې دننه د زلزلې لۀ کبله د ايټمي توانائۍ مرکز د کنټرول نه بهر شو او تابکار شعاګانو پۀ لکونو خلق پۀ کډه کولو مجبور کړل.38

د نيوکليائي الودګۍ پۀ وده کښې د نيوکليائي جنګونو هم ډېر عمل دخل دے. پۀ خاصه توګه هغه ځايونه ترې زيات متاثره ښکاري کوم چې دا وخت د جنګ پۀ اغېزه کښې دي. د بارودو او خطرناک تابکار

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

شعاګانو لۀ کبله د انسان نه علاوه نور حیاتیاتي نظام هم ګډ وډ شوے دے . پۀ تېرو وختونو کښې د روس او یوکرائن د جنګ د وجې نه زیاتي مرغۍ د نړۍ نورو ملکونو ته پۀ هجرت مجبوره شوې وې . پۀ هیرو شیما او ناګاساکي د اېټمي حملو او د فلسطین ، عراق او د افغانستان د جنګونو پۀ نتیجه کښې چې د انساني خونرېزۍ او تاوان سره سره د حیاتیاتي نظام کومه تباهي شوې ده ، د هغې حساب او ازاله کول به نا ممکن وي .

د دغه جنګونو پۀ ماحول کښې رازېږېدلي پښتانۀ شاعران کۀ د بارودو ، مردکو ، بمونو او اېټمي وسلې ذکر نۀ کوي نو څۀ به کوي ؟ پۀ خاصه توګه د ملاکنډ پۀ غزل کۀ مونږ نظر اچوو نو د نیوکلیائي الودګۍ او د جنګ و جدل لۀ کبله د پېدا شوي هر قسم غلاظت نخښې نښانې به پکښې ووینو . پۀ دې حواله احسان باچا خوږلن او ډاکټر خالق زیار پۀ اکثرو شعرونو کښې د بارودو د باران او لوګي ذکر کوي ، لکه دا شعرونه :

"پۀ اور ستي کړې د بارودو باران
د پښتونخوا د چینارونو خوکې"39

"چېرته چې څم بارود الوزي
دا وطن ټول لوګے لوګے دے"40

ښاغلے فضل حکیم عندلیب پۀ خپلو شعرونو کښې پۀ غرونو باندې د مردکو د ورېدلو ذکر کوي او وائي چې د نمبرو د ګلونو وږمې ئې د ګوګړو پۀ زهرو تالا ترغه شوې .

" وږمې ئې د نمبرو د ګلونو کړې تالا
پۀ غروونو مې ورېږي مردکي خوارۀ وارۀ"41

یا دا شعر چې :

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

" داسې نښتر زما پۀ خاوره نشته
چې ئې سينه کښې مړ کي نشته دے"42

نيوکليائي الوډګي د سائنس د ايجاداتو هغه ورکړه ده چې د فائدې نه ئې نقصانات پۀ څو چنده سېوا دي۔ د نړۍ اکثر ملکونه د يو بل سره د سيالۍ پۀ غرض مسلسل پۀ نيوکليائي وسلو جوړولو کښې بوخت دي۔ پۀ نړۍ کښې دا وخت د دولس زرو نه زيات نيوکليائي او اېټمي هتيار موجود دي چې دا دنيا پرې پۀ سيکنډونو کښې تباه کېدے شي۔43 فضل حکيم عندليب د اېټمي وسلې ايجاد د سائنس تر ټولو لويه تېروتنه ګڼي او هم پۀ دې وجه د سائنس علم ناولے بولي:

" د اېټمي وسلې پۀ غر باندې ئې کښېنولو
علم د سائنس داسې ناولے شو د نوي پېړۍ"44

سلطان يوسف سلطان د باجوړ د سيمې هغه شاعر دے چې پۀ غزل کښې ئې د نيوکليائي جنګونو او بارودو د استعمال پۀ اثراتو قلم پورته کړے دے۔ پۀ يو شعر کښې وائي چې د بارودو د لوګي پۀ وجه د کېمور غرونه د مارغانو نه خالي شول او پۀ هجرت مجبوره کړے شول۔

"سلطانه جالې پرېښودې مرغانو ترېنه لاړل
لوګو نه د بارودو پۀ کېمور کښې لېوني شو"45

هغه د نيوکليائي الوډګۍ اثرات پۀ خاوره کښې هم ويني ځکه چې فضا الوده شي نو هر څۀ ورسره الوده شي او ماحولياتي نظام خراب کړي، ځکه خو وائي:

"پۀ کومه خاوره چې ورېږي د بارودو باران
د هغې خاورې چينار، سروه او نښتر خراب شي"46

ماخذ تحقیقی مجلّہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

د نیوکلیائي غلاظت اثرات د زمکې نه په زر کاله کښې هم نۀ ورکېږي۔ هم دا وجه ده چې د زمکې فطري حُسن ورځ تر بله بدرنګه کېږي۔ نیلم ارزو په دغه تناظر کښې د دیر په حقله داسې لیکي :

"نۀ بارود وو پۀ فضا کښې نۀ پۀ زمکه کښې بمونه
نۀ ځان مرګ نۀ ځان مرګی۔ وې زۀ ووم حُسن وۀ او دیر وۀ"47

د دې بحث په رڼا کښې مونږ په نتیجه ورسېدو چې په پښتو کښې د ملاکنډ په جدید غزل کښې د هغه ټولو ستونزو ذکر شوے دے کوم چې د ماحولیاتي الودګۍ باعث ګرځي یا ورته لاره هواروي۔ کوم شاعران چې د الودګۍ په حواله ښکاره جاره موقف لري او په دې مسئله د کافي حده پورې کلیئر دي، په هغوي کښې د ملاکنډ د سردرو په ګڼ شمېر شاعرانو پۀ زړۀ پورې بحث وشو۔ پۀ دغه شاعرانو کښې د احسان باچا خوږلن، عبدالرحیم روغاني، ډاکټر خالق زیار، ډاکټر صاحب شاه صابر، ډاکټر اباسین یوسفزي، زخمي شینواري، فضل حکیم عندلیب، حبیب الله بېتاب، ډاکټر شېر زمان سیماب، طاهر بونېري، اشنا باجوړي، محمد اسماعیل سیار او نیلم ارزو نومونه پۀ خصوصیت سره د یادونې وړ دي۔

## حوالې

1 قادری، حسین محی الدین،ڈاکٹر، پروفیسر، عالمی ماحولیاتی استحکام اور اسلامی اخلاقیات(عصری چیلنجز اور حل)، منہاج القرآن پرنٹرز، لاہور، اپریل2024، ص54

2 Imran Bashir, Environmental Science, Jahangir’s world times publications, 2021, P.18

3 https://www.oxfordlearnersdictionaries,com/definition/english/pollution, accessed on July 17, 2025,12:33 PM, PST

4 عبدالرحیم، عطاءالرحمان، ماحولیاتی آلودگی اور اسلامی تعلیمات، پشاور اسلامیکس، جلد4، شمارہ2، جولائی-دسمبر2013، ص79، https://www.reserchgate.net/publication/335820245

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07



5 عندلیب ، فضل حکیم، جولئ جولئ چیناره، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۲۰ء، ص ۱۹۲

6 قادری، حسین محی الدین،ڈاکٹر،پروفیسر،عالمی ماحولیاتی استحکام اور اسلامی اخلاقیات(عصری چیلنجز اور حل)،ص۵۹

7 Imran Bashir, Environmental Science, P.23

8 قادری، حسین محی الدین، اسلام اور تحفظِ ماحولیات، منہاج القرآن پبلی کیشنز، لاہور، مئ 2019، ص 23

9 رسول،عبداللہ نعیم،اردو شاعری کاماحولیاتی مطالعہ،زیدی لیزر پرنٹنگ،فیصل اباد،2023،ص31

10 زخمي شينوارے، پۀ مات کچکول پتري وهم درپسې، چاپ ځاے نۀ لري، مارچ ۲۰۱۹ء، ص ۳۸

11 سلطان، سلطان یوسف، تال پۀ چينار کښې ، چاپ ځاے نۀ لري، اپرېل ۲۰۲۱ء، ص ۱۲۸

12 قادری، حسین محی الدین،ڈاکٹر،پروفیسر،عالمی ماحولیاتی استحکام اور اسلامی اخلاقیات(عصری چیلنجز اور حل)،ص۵۹

13 Imran Bashir, Environmental Science, P.19

14 Ibid

15 بل گیٹس،موسمی تباہی:کیسے بچنا ہے؟،بک ٹائم،اردو بازار کراچی،2023،ص8

16 روغانے، عبدالرحیم، سندریز احساس، شعیب سنز پبلشرز اېنډ بک سېلرز، مېنګوره سوات، (دریم چاپ) ۲۰۱۲ء، ص ۱۰۲

17 هم دغه اثر، ص ۱۲۷

18 زيار، خالق، ډاکټر، جګه شمله، ملاکنډ ادبي او کلتوري جرګه، درګئ، ۲۰۱۹ء، ص ۸۵

19 هم دغه اثر ، ص ۱۴۷

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07

20 صابر، صاحب شاه، د صاحب شاه صابر كليات ( سريزه، اوډنه او کتنه: ذبیح الله شفق)، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، دويم چاپ ۲۰۱۳ء، ص ۳۲۳

21 هم دغه اثر ، ص ۳۷۸

22 اباسين يوسفزے، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز، مېنګوره سوات، (ورومبے چاپ) ۲۰۱۲ء، ص ۹۴

23 عندلیب ، فضل حکیم، جولۍ جولۍ چيناره، ص ۲۳۴

24 سيماب، شېرزمان، ډاکټر، د دار پۀ سر، سيماب ادبي خپرونه، (دويم چاپ) ۲۰۲۴ء، ص ۱۸۵

25 طاهر بونېرے، زړۀ کښې د ساتلو څوک دي، الاقصیٰ پرنټرز، پېښور، (دويم چاپ) ۲۰۱۵ء، ص ۱۰۷

26 اشنا باجوړے، سپوږمۍ او چينارونه، کتاب کور، پېښور، ۲۰۲۰ء، ص ۱۱۹

27 سیار، محمد اسماعيل، انګازې، چاپ ځاے نۀ لري، ۲۰۲۱ء، ص ۱۸۲

28 قادری، حسین محی الدین، ڈاکٹر، پروفیسر، عالمی ماحولیاتی استحکام اور اسلامی اخلاقیات (عصری چیلنجز اور حل)، ص ۶۳

29 Imran Bashir, Environmental Science, P.30

30 چوہدری، نصیر اے، آبادی اور ماحول، پاکستان فیملی ویلفیئر کونسل، لاہور، 2012ء، ص 406

31 بېتاب، حبيب الله خان، خزان زيلے سپرلے، مهين خپرندويه ټولنه، پښتونخوا، ۲۰۲۰ء، ص ۱۵۸

32 سیار، محمد اسماعيل، انګازې، ص ۱۲۲

33 https://www.clienthearth.org/latest/news/what-is-chemical-pollution/, Accessed on July 18, 2025, 11: 12 PM, PST

34 قادری، حسین محی الدین، ڈاکٹر، پروفیسر، عالمی ماحولیاتی استحکام اور اسلامی اخلاقیات (عصری چیلنجز اور حل)، ص ۶۴

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-07


35 https://pmc.ncbi.nlm.nih.gov/articles/PMC1142333/, Accessed on July 18, 2025, 11:29 PM, PST

36 روغانے، عبدالرحیم، سندریز احساس، ص ۱۰۲

37 https://sigmaearth.com/what-is-nuclear-pollution-its-effects-and-its-control-measures/#google_vignette, Accessed on July 19, 2025, 10:05 AM, PST

38 قادری، حسین محی الدین، اسلام اور تحفظِ ماحولیات، ص ص 31-30

39 خوړلن، اخون زاده احسان باچا، لیت، بلال پرېس بټ خېله، ۲۰۱۰ء، ص ۲۰۲

40 زیار، خالق،ډاکټر، تلوسې،عامر پرنټرز اېنډ پبلشرز پېښور،دویم چاپ ۲۰۱۲ء، ص ۱۲۱

41 عندلیب ،فضل حکیم، ځونډي، بلال پرېس بټ خېله، ۲۰۱۰ء، ص ۲۷

42 هم دغه اثر، ص ۱۳۵

43 https://ourworldindata.org/nuclear-weapons, Accessed on July 19, 2025, 10:44 AM, PST

44 عندلیب ،فضل حکیم، جولۍ جولۍ چیناره، ص ۲۳۴

45 سلطان، سلطان یوسف، ټال پهٔ چینار کښې ، ص ۱۲۰

46 هم دغه اثر، ص ۱۳۲

47 نیلم ارزو، د سازونو باران، اعراف پرنټرز، محله جنګي پېښور، ۲۰۱۸ء، ص ۱۴۳